# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر اوبیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي**

---

**۱/ جمادی الأولی /۱۴۴۴ هـ ق مطابق ۴/ قوس/۱۴۰۱هـ ش**

## د منافقینو علامې او خصلتونه او له هغو ځخه ځان ساتل

الحمد لله يَمُنُ على مَن يشاء بهدايته للإيمان، ويخذُلُ أهل الكفر والطغيان، وأشهدُ أن لاإله إلاالله (يَسْأَلُهُ مَن فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِي شَأْنٍ (۲۹) وأشهدن أن محمداً عبده ورسوله المؤيد بالنصر والبرهان، صلى الله على عبده ورسوله نبينا محمدٍوعلى آله وأصحابه ومن تبعهم بإحسان.

اما بعد: قال الله تعالی:{وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللّهِ وَبِالْيَوْمِ الآخِرِ وَمَا هُم بِمُؤْمِنِينَ}البقرة:(۸)

د باطن مخالف ظاهر ولو ته نفاق ویل کیږي.

د نفاق ډولونه : نفاق په دوه ډوله دی:

لومړی: اعتقادي نفاق چې دی ته نفاق اکبر هم ویل کیږي.

دوهم : عملي نفاق چې دی ته نفاق اصغر هم ویل کیږي.

لومړی: اعتقادي نفاق: اعتقادي نفاق هغه دی چې ددې نفاق خاوند ظاهرا اسلام قبول کړی وي خو په باطن کې د اسلام مخالف وي او کفر، شرک، یهودیت، نصرانیت یا بل دین او قانون یې په زړه کې پټ کړی وي.

د اعتقادي نفاق حکم:

اعتقادي نفاق انسان په دنیا کې په کلي ډول د اسلام ددائرې ځخه وباسي او ځوک چې په دې ډول نفاق اخته وي او د مرګ ځخه مخکې ورځخه توبه ونه باسي، نو په آخرت کې به د جهنم تر ټولو په ټیټه درجه کې وي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي:{إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ وَلَن تَجِدَ لَهُمْ نَصِيراً} النساء: (۱۴۵)

ترجمه: بیشکه منافقان دي په طبقه ډیره ښکته کې د اوره د (دوزخ) او له سره به نه مومي ته دوی ته مددګار.

دوهم: عملي نفاق یا نفاق اصغر: عملي نفاق یا نفاق اصغر هغه دی چې کوم شخص د منافقانو اعمالو ځخه یو عمل ترسره کوي په داسې حال کې چې په زړه کې یې ایمان موجود وي.

د عملي نفاق حکم:

عملي نفاق یا اصغر نفاق مسلمان د اسلام له دائرې ځخه نه وباسي؛ مګر سخته ګناه ده، په قرآن کریم او نبوي آحادیثو کې د نفاق د عملونو په اړه زیات قباحت بیان شوی دی.

امام حسن بصري رحمه الله فرمایي: (النفاق نفاقان : نفاق التكذيب ونفاق العمل) سنن الترمذي

ترجمه:- نفاق په دوه ډوله دی : د کفر نفاق او د عمل نفاق.

حضرت حذيفة اليمان رضي الله عنه فرمايي: (عَنْ حُذَيْفَةَ ، أَنَّهُ قَالَ: الْمُنَافِقُونَ الْيَوْمَ أَشَرُّ مِنْهُمْ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ , كَانُوا إِذْ ذَاكَ يَكْتُمُونَهُ ، وَهُمُ الْيَوْمَ لا يَكْتُمُونَهُ). صفة النفاق ونعت المنافقين لأبي نعيم.

ترجمه:- د نن ورځې منافقان زيات شرير دي نسبت درسول الله صلى الله عليه وسلم د زمانې منافقينو ته؛ ځکه په هغه وخت به منافقانو خپل منافقت پټ ساتلو، خو نن ورځ منافقان خپل منافقت ښکاره کوي.

د منافقانو علامې او خصلتونه:

اگر چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې منافقين په مختلفو چلونو، مختلفو حيلو او درواغو سره کوښښ کاوه چې مسلمانان او خلك د هغوی له نفاق او منافقت څخه خبر نشي؛ مگر الله تعالى په آيتونو او گڼو سورتونو کې د منافقينو د منافقت څخه پرده پورته کړی ده لکه چې د توبې سورت په ( فاضحه) سورت ځکه و نومول شو چې د منافقانو د خصلتونو په بيانولو سره يې د منافقينو له مخ څخه د منافقت پرده پورته کړه او د هغوی واقعي څهره يې رسوا او افشاء کړه چې د منافقينو ځينې علامې، خويونه او خصلتونه په لاندې توگه دي :

١- په ځمکه کې فساد کول. د منافقانو يوه علامه داده چې دوی به دعوه لري چې موږ خيرخوا او مصلح خلك يو، ولې په حقيقت کې منافقان د ځمکې په سر همدوی فساد کوي. الله جل جلاله فرمايلي دي: {وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لا تُفْسِدُوا فِي الأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ. أَلا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَكِنْ لا يَشْعُرُونَ} البقرة:(١١-١٢)

ترجمه:- او کله چې وويل شي دې منافقانو ته فساد مه کوئ په ځمکه کې نو وايې دوی بيشکه همدا خبره ده چې موږه همدغه اصلاح کوونکي يو. خبردار اوسئ بيشکه دوی دي همدوی فساد کوونکي مگر نلري شعور دوی ( په خپل فساد).

په اوسني عصر کې ځينې خلك منافقت کوي او د مسلمانانو په ضد او تباهۍ کې مصروف وي خو دعوه ددې لري چې موږ صلح اوخيرخواهي غواړو.

امام ابن جرير رحمه الله فرمايي: ( دا آيت د هغه منافقانو په حق کې راغلی دی چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کې وو خو ددې څخه ټول هغه څوك مراددي چې دپيغمبرعليه السلام د زمانې د منافقانو په شان صفت ولري د قيامت د ورځې پورې). [تفسير ابن جرير]

٢- جگړه ماري او خصومت کول.د منافقانو بله علامه داده چې تل به د خلکو سره خصومت او جگړې کوي او چې کله ورته وويل شي چې دا کار مه کوه په غيرت کې به راشي او خصومت نور هم زيات کړي. الله تعالى فرمايلي دي:{وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُعْجِبُكَ قَوْلُهُ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيُشْهِدُ اللَّهَ عَلَى مَا فِي قَلْبِهِ وَهُوَ أَلَدُّ الْخِصَامِ. وَإِذَا تَوَلَّى سَعَى فِي الأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللَّهُ لا يُحِبُّ الْفَسَادَ. وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللَّهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالأِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ}البقرة:(٢٠٤-٢٠٦)

ترجمه:- او ځينې له خلکو هغه څوك دي چې په تعجب کې اچوي تا خبره دده ( په کارو ددی) ژوندون لږ کې او شاهدگرځوي دوی الله تعالى په هغه شي چې په زړه دده کې دی حال داچې دی ډير سخت دی په جگړه او عداوت کې. او کله چې بيرته وگرځي له تانه (ای محمده) نو گرندي گرځي په ځمکه ( دمدينې) کې لپاره ددې چې فساد وکړي په ځمکه کې او هلاکوي کښت او ساکښان( ذي روح) په (سوزولو او وژلو ) حال داچې الله نه خوښوي فساد ( او معصيت) او کله چې وويل شي ده ته چې وويريږه له الله نيسی دی غرور گناه نو پس کافي دی ده لره ( عذاب د اور) دوزخ او هرومرو بد بستر دی (دا اور ددوزخ).

۳- بله علامه دکفارو سره دوستي او ملګرتيا او د مؤمنانو لپاره د بدو ورځو غوښتل. الله تعالی د منافقانو پـه اړه فرمـايي: {بَشِّرِ الْمُنَافِقِينَ بِأَنَّ لَهُمْ عَذَاباً أَلِيماً. الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً} النساء:(۱۳۹)

ترجمه:- زيری ورکړه ( ای محمده!) منافقانو ته په دې چې بيشکه شته دی دوی ته عذاب دردناک . هغـه کسـان چـې نيسي- دوی کافران دوستان ( خپل ) بې له مؤمنانو آيا لټوي دا (منافقان) په نزد ددی (کفارو) عزت پس بيشکه ( دينـوي او آخـروي) عزت خاص الله لره دی ټول.

په همدې پسې فرمايي:{ الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِنَ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَاللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَنْ يَجْعَلَ اللَّهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلاً} النساء: (۱۴۱)

ترجمه:- هغه منافقان چې هميشه منتظر دي (حوادثو) ستاسې ته نو که وه تاسې ته بری له جانبه دالله نـو وايـې دا (منافقـان مسلمانانو ته ) چې آيا نه وو مونږ له تاسې سره او که وه کافرانو ته برخه د(بري) نو وايې دا (منافقان کفارو ته) چـې آيـا غالـب شوي نه وو مونږ پرتاسې او (آيا ) ومو نه ژوغورلی تاسې له مؤمنانو ځينې نو الله تعالی به فيصله وکړي په منځ ستاسـې کـې پـه ورځ د قيامت کې او له سره به ونه ګرځوي الله د پاره دکافرانو پر مؤمنانو باندې هيڅ لاره( دحجت او د بري).

مونږ ته په کار دي چې د منافقانو له خوی ځخه ځان وساتو او د کفارو سره دوستي ونـه کـړو او د مؤمنـانو لپـاره د نـړی پـه هرځای کې چې وي خير وغواړو.

۴- دوکه او فريب او د عباداتو په کولو کې سستي کول. د منافقانو دا عادت دی چې د مسلمانانو سره دوکه او فريـب کـوي او د الله تعالی په عبادت کې په ځانګړی توګه په لمانځه کې سستي کوي.

الله جل جلاله ددوی د ناوړه علامو څخه يادونه کوي او فرمايي: { إِنَّ الْمُنَافِقِينَ يُخَادِعُونَ اللَّهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ وَإِذَا قَامُوا إِلَى الصَّلاةِ قَامُوا كُسَالَى يُرَاؤُونَ النَّاسَ وَلا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلا قَلِيلاً. مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَلِكَ لا إِلَى هَؤُلاءِ وَلا إِلَى هَؤُلاءِ وَمَنْ يُضْلِلِ اللَّهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهُ سَبِيلاً} النساء: (۱۴۳)

ترجمه:- بيشکه چې منافقان ټګي کوي ( په اظهار د اسلام او په اخفاء دکفر) له الله سره او اللـه سـزا ورکـوونکی دی د دوی ( ددوی د ټګی په سبب) او هرکله چې پاڅيږي دغه ( منافقان) لمانځه ته نو پاڅيږي سست کاهلان ښئ دوی خلکو تـه (ځـان خپل چې مونږ هم مسلمانان يو) او نه يادوي دوی الله مګر ( ريايې يادول) لږ.

مؤمن لره ښايي چې د منافقانو له صفت څخه ځان وساتي او ددوکې، فريب او په لمانځه کې د سستی او تنبلی څخـه ځـان وساتي. په آحاديثو کې د جمع او جماعت زيات تاکيد راغلی دی .

په يو حديث سريف کې رازي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ تَرَكَ ثَلاثَ جُمُعَاتٍ مُتَوَالِيَاتٍ مِنْ غَيْرِ عِلَّةٍ، طُبِعَ عَلَى قَلْبِهِ، وَهُوَ مُنَافِقٌ). صفة النفاق ونعت المنافقين لأبي نعيم

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسـلم فرمـايلي دي چـاچې دری جمعـې لمونځ يو په بل پسې پريښود پرته له کوم عذر څخه په زړه به يې مهر ولګيږي او هغه به منافق وي.

په يو بل حديث شريف کې رازي :(عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: الْفُجُورُ كُلُّ الْفُجُورِ، وَالنِّفَاقُ، مَنْ سَمِعَ مُنَادِيَ اللَّهِ يُنَادِي بِالصَّلاةِ وَالْفَلاحِ فَلَمْ يُجِبْ). صفة النفاق ونعت المنافقين لأبي نعيم

ترجمه:- د سهل ابن معاذ رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي پوره گناه ده او نفاق دی څوک چې د يو کس څخه واوري چې لمانځه ته خلك رابلي او کامیابۍ ته خلك راوبولي او دهغې اجابت نه کوي.

۵- غدر، خيانت، وعده خلافي او خلکو ته کنځل کول. د منافقانو بله علامه داده چې په وعدو وفاء نه کوي، امانت کې خيانت کوي. الله تعالی د منافقانو ددې خصلت څخه پرده پورته کړی ده او فرمايي: {وَمِنْهُم مَّنْ عَاهَدَ اللّهَ لَئِنْ آتَانَا مِن فَضْلِهِ لَنَصَّدَّقَنَّ وَلَنَكُونَنَّ مِنَ الصَّالِحِينَ. فَلَمَّا آتَاهُم مِّن فَضْلِهِ بَخِلُواْ بِهِ وَتَوَلَّواْ وَّهُم مُّعْرِضُونَ} التوبة: (٧٦)

ترجمه: او ځيني له دغو ( منافقانو) څخه هغه دي چې عهد يې کړی وو له الله سره قسم دی چې خامخا که راکړي (الله) مونږ ته ( مال) له فضله خپل نو خامخا خيراتونه به ورکوو ( زکات به تری باسو) او خامخا به شو مونږ له صالحانو څخه نو کله چې ورکړ ( الله ) دوی ته (مال) له فضله خپل نو بخل يې اختيار کړ په هغه ( مال) او بيرته ورگرځيدل دوی حال دا چې دوی څنگ کوونکي وو ( له حقه .

په حديث شريف کې رازي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ عَلَامَاتِ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا ائْتُمِنَ خَانَ) . متفق عليه

ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي د منافق علامې درې دي، کله چې خبری کوي دروغ وايي او کله چې وعده وکړي وعده خلافي کوي او کله چې امين وگرځول شي خيانت کوي په امانت کې.

په يو بل حديث شريف کې د منافقت علامات څلور ذکر شوي دي: ( أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقاً خَالِصاً ، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ حَتَّى يَدَعَهَا : إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ ، وَإِذَا حَدَّثَ كَذَبَ ، وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ ، وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ ) متفق عليه .

ترجمه:- څلور خصلتونه دي چاکې چې دا څلور خصلتونه وي خالص منافق دی او په چا کې چې يو خصلت وي په هغه کې د نفاق يو خصلت وي ترهغې پوری چې هغه پريږدي کله چې امانت ورته وسپارل شي خيانت په کې کوي او کله چې خبری کوي دروغ وايې او کله چې عهد وکړي په هغه کې غداري کوي او کله چې جگړه کوي نو کنځل کوي.

٦- دجهاد څخه تيښته او نور خلك هم له جهاد څخه منع کول. منافق طبيعته خلك خپله هم جهاد نه کوي او نورو ته هم وايي چې جهاد مه کوئ. او که څوک په جهاد کې شهيد شي دوی ورته وايې جهاد ته به نه تللو چې نه مړ کيدی. الله تعالی ددوی حال داسې بيانوي:{فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلاَفَ رَسُولِ اللّهِ وَكَرِهُواْ أَن يُجَاهِدُواْ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَقَالُواْ لاَ تَنفِرُواْ فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرّاً لَّوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ } التوبة:(٨٣)

ترجمه:- خوشحاله شوي وو بيرته پاتي شوي ( له غزا د خپل نفاق له امله) په کيناستلو خپلو بيرته له رسول دالله څخه او بده گڼله دوی دا چې جهاد وکړي دوی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو په لاره د الله کې او ويل به دوی ( په خپلو منځونو کې يا مؤمنانو ته) چې مه زئ تاسې ( تبوک غزا ته) په دغه گرمۍ کې ووايه ( ای محمده!) چې اور ددوزخ ډير سخت دی له جهته له گرمۍ که وي دوی چې پوهيدای دوی ( نو نافرماني به يې نه کړی).

په يو حديث شريف کې رازي:( عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ وَلَمْ يَغْزُ، وَلَمْ يُحَدِّثْ نَفْسَهُ بِالْغَزْوِ، مَاتَ عَلَى شُعْبَةٍ مِنْ نِفَاقٍ) .صحيح مسلم

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي څوک چې مړشي او غزا یې نه وي کړې او په زړه کې یې هم د غزا اراده نه وي مړ به شي د نفاق په یوه برخه باندې .

منافقین به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې جهاد ته نه تلل او مختلفي بهانې به یې کولی خو که چیرې جهاد ته به لاړل نوری فتنې به جوړولی. په یوحدیث شریف کې رازي:(عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رضي الله عنه - قَالَ كُنْتُ مَعَ عَمِّي فَسَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ أُبَيٍّ ابْنَ سَلُولَ يَقُولُ لاَ تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ حَتَّى يَنْفَضُّوا وَقَالَ أَيْضًا لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِعَمِّي فَذَكَرَ عَمِّي لِرَسُولِ اللهِ-صلى الله عليه وسلم- فَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم- إِلَى عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيٍّ وَأَصْحَابِهِ فَحَلَفُوا مَا قَالُوا فَصَدَّقَهُمْ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم-وَكَذَّبَنِي فَأَصَابَنِي هَمٌّ لَمْ يُصِبْنِي مِثْلُهُ قَطُّ فَجَلَسْتُ فِي بَيْتِي فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ [إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ] إِلَى قَوْلِهِ [هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لاَ تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ] إِلَى قَوْلِهِ [لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ] فَأَرْسَلَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ –صلى الله عليه وسلم- فَقَرَأَهَا عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ إِنَّ اللهَ قَدْ صَدَّقَكَ).صحیح البخاري

ترجمه:- د زید ابن ارقم رضي الله عنه څخه روایت دی چې زه د خپل تره( سعد بن عباده ) سره وم (په یوه غزوه کې) چې عبدالله ابن ابی ابن سلول خپل ملګرو ته وویل: د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ملګرو مصرف مه کوئ ترڅو دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه خواره شي او هغه پریږدي او داسې وویل : که چیرې مونږ مدینې منورې ته واپس شو مونږ عزتمن خلک به ذلیله خلک له مدینې منورې څخه وباسو. ما دا خبره خپل تره (سعدابن عباده) ته وکړه زما تره دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وکړه ، پیغمبرعلیه السلام عبدالله ابن ابی ابن سلول او دهغه ملګرو ته یو کس ور ولیږه،

هغوی منکر شول او قسمونه یې وخوړل چې مونږ داخبره نه ده کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی په خپلو قسمونو کې رېښتنې وګڼل او زه یې صادق ونه ګڼلم زه ددې څخه وروسته سخت غمژن شوم چې مخکې له دې څخه داسې غمجنې ماته نه وه رسیدلې په خپل کور کې کیناستم، الله تعالی دا آیت نازل کړ [إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ] تر دې آیت پورې[هُمُ الَّذِينَ يَقُولُونَ لاَ تُنْفِقُوا عَلَى مَنْ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ] او تردې آیت پورې [لَيُخْرِجَنَّ الأَعَزُّ مِنْهَا الأَذَلَّ] ما ته رسول الله صلی الله علیه وسلم یوکس راولیږه او ماته یې دا آیتونه تلاوت کړل او بیا یې وفرمایل: بیشکه الله تعالی ته رېښتونی وګرځولې.

۷- د مسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي اچول. د منافقانو بله علامه داده چې دوی به تل کوښښ کوي چې دمسلمانانو ترمنځ بې اتفاقي واچوي او یو دبل دښمنان یې کړي چې نن ورځ هم ځینې مغرضه کړې کوښښ کوي چې د مسلمانانو ترمنځ درز رامنځ ته کړي. الله جل جلاله فرمايي: {لَوْ خَرَجُواْ فِيكُم مَّا زَادُوكُمْ إِلاَّ خَبَالاً ولأَوْضَعُواْ خِلاَلَكُمْ يَبْغُونَكُمُ الْفِتْنَةَ وَفِيكُمْ سَمَّاعُونَ لَهُمْ وَاللّهُ عَلِيمٌ بِالظَّالِمِينَ. لَقَدِ ابْتَغَوُاْ الْفِتْنَةَ مِن قَبْلُ وَقَلَّبُواْ لَكَ الأُمُورَ حَتَّى جَاء الْحَقُّ وَظَهَرَ أَمْرُ اللّهِ وَهُمْ كَارِهُونَ} التوبة:(۴۸-۴۹)

ترجمه:- نو که وتلي وي دغه ( منافقان) په ( لښکر د) تاسې کې نو نه به و زیات کړي دوی تاسې ته ( هیڅ شی) مګر شر، خرابي ، فساد او چغلي او خامخا چابکي به کړې وه دوی په منځ ستاسې کې ( په چغلي او نورو بدیو کې) حال داچې غوښتله به دوی تاسې ته فتنه( ستاسې په منځ کې ددوښمنۍ په اچولو او له کافرانو څخه ستاسې په ویرولو کې) او شته په تاسو کې جاسوسان ددوی لپاره او الله ښه عالم دی ( په نیتونو د) ظالمانو. خامخا په تحقیق لټولي وو دوی فتنه پخوا ( په احد او په خندق کې) او اړولي وو تاته ټول کارونه ( په تدبیرونو او حیلو ستاددین دابطال لپاره) تر هغه پورې چې راغی حق ( ریښتیا وعده دالله دنصرت) او ظاهر شو امر دالله حال داچې دوی بد ګڼونکي وو.
په حدیث کې د منافق دا علامه داسې ذکر شوی ده: ( مَثَلُ الْمُنَافِقِ كَمَثَلِ الشَّاةِ الْعَائِرَةِ بَيْنَ الْغَنَمَيْنِ تَعِيرُ إِلَى هَذِهِ مَرَّةً وَإِلَى هَذِهِ مَرَّةً ). صحیح مسلم

ترجمه:- مثال د منافق په شان د هغه ګډې دی چې حیرانه او مترده وي په مینځ د دوه رمو کې چې رازي یو ځل دی رمی ته او بل ځل ورزي هغه بلی رمی ته.

٨- الله جل جلاله، پیغمبرصلی الله علیه وسلم، قرآن کریم ، دین او مسلمانانو پوری ټوکې، مسخری او استهزاء کول.
الله تعالی فرمایلي دي:{وَلَئِن سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنتُمْ تَسْتَهْزِؤُونَ ؛ لاَ تَعْتَذِرُواْ قَدْ كَفَرْتُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ إِن نَّعْفُ عَن طَآئِفَةٍ مِّنكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةً بِأَنَّهُمْ كَانُواْ مُجْرِمِينَ}التوبه:(٦٥-٦٦)
ترجمه:- او قسم دی خامخا که پوښتنه وکړی ته دوی نه ( چې تاسې ولی استهزاء کوي په داسې حال چې دوی تبوک تـه تلل) نو ضرور به وایې خامخا دوی چې بیشکه همدا خبره ده چې وو مونږ چې مجلس او لوبی مو کولی ووایه ( ای محمده دوی ته) چې آیا په الله او په آیتونو دالله او په رسول دالله پوری وئ تاسې چې استهزاء به مو کوله ؟ عذرونه مه کوئ تاسې ( مونږ ته په دروغو سره) په تحقیق (ظاهرا هم) کافران شوی یی وروسته له ( اظهار د) ایمان ستاسې کـه عفـوه وکـړو مـونږ د یوې ډلې ستاسې څخه نو ضرور عذاب به ( هم ) ورکړو بلی ډلی ته په سبب ددی چې دوی بیشکه وو ګناهګاران.

٩- د اهل حق عیبونه بیانول او د خپل ځان لپاره غوره حالت لټول.

د منافق بل خصلت دادی چې تل د خپل ځان لپاره د ښه حالت غوښتونکي وي او د اهل حق بدي او عیبونه بیانوي، لکـه چې الله تعالی فرمایلي دي:{وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ فَإِنْ أُعْطُواْ مِنْهَا رَضُواْ وَإِن لَّمْ يُعْطَوْاْ مِنهَا إِذَا هُمْ يَسْخَطُونَ}التوبه: (٥٨)

ترجمه:- او ځینې له دغو ( منافقانو) څخه هغه دي چې عیب وایې ستا په ( تقسیم) د صدقاتو ( او د غنایمو) کې نو کـه ورکـړه شي دوی ته ( ددوی له غوښتنې سره سم) له هغې څخه راضي کیږي( په دی قسمت سره) او که ورنه کـړی شي دوی تـه لـه هغه څخه ( دده په غوښتنې) نو هغه وخت دوی په قهریږي.

١٠- د اسلام ددین څخه مخ اړول او اعراض کول، یا په اسلامي احکامو او دستورونو انتقاد کول او په بدو نادرستو او منفي تبلیغاتو سره خلك د اسلام ددین څخه متنفر کول او په اسلامي قوانینو فیصله نه کول.

الله تعالی په دې برخه کې د منافقینو له عمل څخه حکایت کوي او فرمـایې:{وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْاْ إِلَى مَا أَنزَلَ اللّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ رَأَيْتَ الْمُنَافِقِينَ يَصُدُّونَ عَنكَ صُدُودًا}النساء: (٦١)

ترجمه:- او کله چې ووېل شي دی( منافقانو ) ته رازئ طرف د ( حکم د) هغه ( کتاب) ته چې نازل کړی دی الله او طـرف د( حکم د) رسول ( دده) ته ( د جګړې د فیصلې له پاره ) نو ګوری به ته منافقان چې ګرځي به له تا په ګرځیدلو سره.

١١- د کفارو قوانین د اسلامي شریعت په احکامو او قوانینو برتر ګڼل او د کفري او وضعي قوانینـو د تطبیـق لپـاره کوښښ کول؛ لکه چې الله جل جلاله په دې برخه کې د منافقینو د کړنو یادونه کوي او فرمایلي یې دي: {أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُواْ بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُواْ إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُواْ أَن يَكْفُرُواْ بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلاَلاً بَعِيدًا}النساء: (٦٠)

ترجمه:- آیا نه دي کتلي تا هغو کسانو ته چې دعوه کوي دوی چې بیشکه دوی ایمان راوړی دی په هغه (قرآن) چې نـازل کړی شوی دی تاته ( ای محمده!) او په هغو ( کتابونو) چې نازل کړی شوی پخوا له تانه ( ای محمده) اراده لري دوی چې ور وړي (خصومت خپل) په طرف د شیطان (کعب ابن اشرف) او په تحقیق حکم کړی شوی دی دوی ته چې کـافر دی شي دوی په ده سره او اراده لري شیطان دا چې ګمراه کړي دوی په ګمراهۍ لری سره ( له حقه).

پر مسلمان فرض دي چې د الله تعالی د احکامو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنتو پیروي وکړي او خپلې فیصلې په شریعت باندې وکړي.

مفسرینو ددې آیت په تفسیر کې لیکلي دي چې د یو منافق او د یو یهودي ترمنځ شخړه راغله منافق وویل رازه چې دا شخړه په کعب بن اشرف چې د منافقانو مشر ؤ حل کړو او یهودي وویل نه! مونږ به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورشو او په هغه به دا شخړه حل کړو ترڅو چې هغه زمونږ په منځ کې فیصله وکړي. دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د فیصلی لپاره ورغلل خو کله چې نبي علیه السلام فیصله وکړه نو هغه د یهودي په ګټه وه چې منافق وربانـدې راضي نه ؤ د همدې کبله د خپل مقابل یهودي سره کلک شو چې باید یوځل عمر ابن الخطاب رضي الله عنه ته هم ورشو چې هغه په دې قضیه کې څه حکم کوي( د منافق طمع وه چې ګوندي زما به ګټه به فیصله وکړي) حضرت عمر رضي الله عنه ته چې دواړو ذکر شوی د نبي علیه السلام فیصله واوروله او بیا تری منافق وغوښتل چې ته زمونږ په مینځ کې فیصله وکړه نو عمر رضي الله عنه دوی ته امر وکړ چې تاسو دلته ودریږئ او په خپله کورته ننوت د کور څخه توره په لاس را بهر شو او د منافق سر یې له تنې څخه پرې کړ او وه یې ویل چې ( هکذا اقضي بین من لم یرض بقضاء الله وقضاء رسوله) یعنی زه دغسې فیصله کوم د هغه چا په مینځ کې چې هغه دالله تعالی او دده د پیغمبرصلی الله علیه وسلم فیصله نه مني نو ذکر شوي آیتونه نازل شول.[ تفسیر روح المعاني]

۱۲- د کفري افکارو تائید او په کفري او غیر دیني مبادئو باندې باور کول او یا هم د الحادي مذهبونو تائید کول او هغوی ته خلکو دعوت کول لکه سیکولاریزم، نشنلزم او یا هم خلک قوم پرستۍ او سمت پرستۍ او نورو خبرو ته دعوتول.

۱۳- د مسلمانانو پرخلاف د کفارو سره مرسته او همکاري کول، څکه چې دپیغمبر علیه السلام د زمانې منافقین په حقیقت کې کفار ؤ، لکه چې الله تعالی مسلمانان د منافقینو ددې عمل څخه اګاه کړي دي او فرمایلي دي: :{یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُواْ لاَ تَتَّخِذُواْ الْیَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِیَاء بَعْضُهُمْ أَوْلِیَاء بَعْضٍ وَمَن یَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللّهَ لاَ یَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِینَ . فَتَرَى الَّذِینَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ یُسَارِعُونَ فِیهِمْ یَقُولُونَ نَخْشَى أَن تُصِیبَنَا دَآئِرَةٌ فَعَسَى اللّهُ أَن یَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ فَیُصْبِحُواْ عَلَى مَا أَسَرُّواْ فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِینَ}المائده: (52-51-)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یی راوړی دی مه نیسئ تاسې یهودیان او نصرانیان دوستان ( چې ددوی سره موالات او مودت وکړې یو تربله) ځینې دوستان دي د ځینو نورو او هر چا چې دوستي وکړه له دوی سره له تاسې ځینې نو بیشکه چې دی له همدوی ځینې دی ( نو مؤمنان دي ځان وساتي له دوستی له کفارو) بیشکه الله هدایت نه کوي قوم ظالمانو ته، نو وبه وینئ ته هغه کسان چې په زړونو ددوی کې مرض( رنځ د نفاق) دی چې زغلي به په ( دوستی د) دوی کې وای به دوی (په عذر کې چې) ویریږو له دی نه چې وبه رسیږي مونږ ته کومه حادثه، نو نژدی ده چې الله به راتله وکړي په بري یا ( به را وړي بل) یو حکم له خپل جانبه ( په اظهار د حال دمنافقینو) نو وبه ګرځي دوی په هغه شي چې پټ کړی دی دوی په نفسونو خپلو کې ( له شک او دوستۍ د کفارو) پښیمانه.

۱۴- د مسلمانانو په شکست او ناکامۍ خوشحالي کول که چیرې مسلمانان د جنګ په کومه جبهه کې شکست وخوري او کفار پر مسلمانانو غالب شي. الله تعالی د منافقینو ددې عمل څخه یادونه کړی ده او فرمایلي یې دي: {هَاأَنتُمْ أُوْلاء تُحِبُّونَهُمْ وَلاَ یُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُواْ آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْاْ عَضُّواْ عَلَیْكُمُ الأَنَامِلَ مِنَ الْغَیْظِ قُلْ مُوتُواْ بِغَیْظِكُمْ إِنَّ اللّهَ عَلِیمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ؛ إِن تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِن تُصِبْكُمْ سَیِّئَةٌ یَفْرَحُواْ بِهَا وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ لاَ یَضُرُّكُمْ كَیْدُهُمْ شَیْئًا إِنَّ اللّهَ بِمَا یَعْمَلُونَ مُحِیطٌ} آل عمران:(۱۱۹-۱۲۰)

ترجمه:- واورئ خبردار شئ تاسې هغه کسان یی چې دوستي کوی له دوی سره او نه کوي دوستي دوی له تاسې سره او تاسې ایمان لرونکي یی په ټولو کتابونو او کله چې یوځای شوی دوی له تاسې سره نو وایې دوی ایمان مو راوړی دی او کله

چې يواځې شي نو چيچې دوی پرتاسې باندې سرونه د گوتو له ( ډير ) قهره ووايه ( ای محمده ) دوی تـه مـړه شي پـه قهـر خپل سره بيشكه چې الله عالم دی په هغو ( خبرو هم ) چې په سينو كې دي . كه ورسيږي تاسې ته كومه ښيگڼه ( لكه فـتح او غنيمت ) نو خپه كوي دوی او كه ورسيږي تاسو ته كومه بدي( خپگان لكه قتل يا هزيمت) نو خوشحاليږي دوی په سبب د

هغه او كه صبر وكړئ تاسې ( پراضرارو ددوی) او ځان وساتئ تاسې ( له دوستی ددوی) نو ضرر به نه رسوي تاسې تـه مكـر ، فريب ددوی هيڅ شی بيشكه چې الله په هغو كارونو چې دوی يې كوي ( هم ) ښه احاطه كوونكی دی.

د پورتنو مباركو آيتونو په رڼاكې پـه دې وخـت كـې د منافقـانو د عمـل نمونـه داده چـې منافقـان د مسـلمانانو مشـكلاتو او مصيبتونو ته هيڅ توجه نه كوي او كه چيرې مسلمانانو كوم مشكل ورپيښ شي منافقـان يـواځې دا نـه چـې د مسـلمانانو سره هيڅ ډول مرسته او كومك نه كوي، بلكې د جاهليت د زمانې د شعارونو په پورته كولو سره چې دوی عـرب نـه دي او يـا دا خلك زمونږ د قوم څخه نه دي د نورو خلكو د مرستو په مخ كې خنډ واقع كيږي.

۱۵- د علماء، مصلحينو او مؤمنانو ته كنځل كول او ددوی په حق كې سپكې سپورې خبری كول او پوچ الفاظ كارول .

الله تعالی په دې برخه كې دمنافقانو دعمل څخه حكايت كوي او فرمايي:{وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُواْ كَمَا آمَـنَ النَّـاسُ قَـالُواْ أَنُـؤْمِنُ كَمَا آمَنَ السُّفَهَاء أَلا إِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَاء وَلَـكِن لاَّ يَعْلَمُونَ} البقره: (۱۳)

ترجمه:- او كله چې وويل شي دوی ته چې ايمان راوړئ لكه چې ايمان راوړی دی نـورو خلكـو نـو وايـې دوی آيـا ايـمان راوړو مونږ لكه چې ايمان راوړی دی ناپوهانو. خبردار اوسئ! بيشكه دوی دي هـم دوی ناپوهـان، نـه پـوهيږي دوی ( پـه ناپوهی خپله).

په يو بل ځای كې الله تعالی فرمايي:{الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُـؤْمِنِينَ فِي الصَّـدَقَاتِ وَالَّـذِينَ لاَ يَجِـدُونَ إِلاَّ جُهْـدَهُمْ فَيَسْخَرُونَ مِنْهُمْ سَخِرَ اللّهُ مِنْهُمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ}التوبه:(۷۹)

ترجمه:- هغه منافقان چې عيب وايې په خيرات كوونكو باندې له مؤمنانو په ( اداء د) صدقاتو كې او ( بل) دهغـو ( بـې وزلـو عيب وايې) چې هيڅ نه مومي دوی مگر په قدر د وس خپل پس مسخری كوي دغه (منافقان) په دوی پوری، سزا به وركـړي دوی ته( د مسخرو ددوی) او شته دوی ته عذاب دردناك.

د الله تعالی د حكم په اساس مونږ وينو چې ځينې منافق صـفته خلـك پـه صـوتي او تصـويری خپرونـو كـې پـر علـماوو او مصلحينو باندې بې ځايه انتقادونه كوي او ورته بد رد وايې او د هغوی په اړه بد الفاظ كاروي چـې دداسـې كسـانو لـه كړنـو څخه ځان ساتل په كاردي.

۱۶- د كفري اديانو او مذاهبو پيروانو صفت او مدح كول او يا هم د كفري عقيدې مفكرينو صفت او مدح كول او يا د كفـري نظر د خاوندانو نظرياتو خپرول او ورته دعوت كول چې داسلام سره په ټكر كې دي.

الله تعالی په دې اړه فرمايي:{أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُونَ عَـلَى الْكَـذِبِ وَهُـمْ يَعْلَمُونَ} المجادله:(۱۴)

ترجمه:- ايا نه گورئ ته ( ای محمده) هغو (منافقانو ) ته چې دوستي كوي دوی له قومـه ( يهودانـو) سره چـې غضـب كـړی دی الله په هغوی باندې نه دی دغه (منافقان) له تاسې ( مؤمنانو) څخـه او نـه د هغـو ( يهودانـو) څخـه او قسـمونه خـوري (منافقان په دعوی داسلام) په درغو باندې حال داچې دوی پوهيږي ( په خپلو دروغو) .

د الله تعالی د حكم په اساس نن ورځ مونږ وينو چې د منافقانو يو تعداد د ځينو بـې دينـو او ملحـدانو لكـه لـيلن، مـاركس، فرويد وامثالهم د پوهانو په حيث مدح او ستاينه كوي چې دا كار لوی خطر لري.

**۱۷- د مسلمانانو په اړه د شکونو او بې بنیاده خبرونو او اطلاعاتو خپرول.**

**د منافقانو ناکاره خصلت دادی چې د مسلمانانو د ضعف او کمزورۍ خبرونه خپروي او درواغ خپروي ترڅو د اسلامي ټولنو پرخلاف د نورو خلکو ذهنیت ور بد کړي. الله تعالی په دې اړه فرمایلي دي:{لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلا قَلِيلا مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلا} الاحزاب: (٦١)**

**ترجمه:- قسم دی که منع نه شول منافقان ( له نفاق څخه ) او هغه کسان چې په زړونو ددوی کې رنځ دی او بدې آوازې ګډوونکي په ( ښار د ) مدینې کې نو خامخا به وګمارو ، مسلط به کړو مونږ خامخا تا پر دوی بیا به همسایتوب ونه کړي ( دوی ) د تا په دغه ( مدینه کې ) مګر لږ وخت رټلی تر رټلی شوي هرچیرې چې وموندلی شي وبه نیولی شي او وبه وژلی شي په وژلو( د خورای سره).**

**امام قرطبي رح فرمايي:هغه څوك چې د پیغمبرانو په باره کې بې ځایه آوازې خپروي او نفاق یې ښکاره شو باید ونیول شي او ووژل شي.[ تفسير القرطبي]**

**ددې آیت کریمه څخه دا هم معلومیږي چې د مسلمانانو پرخلاف بې ځایه آوازې خپرول له پخوا څخه راروانه سلسله ده.**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې منافقانو په حضرت عائشې رضي الله عنها تور پورې کړ او پر هغې یې تهمت ولګولو و پیغمبرعلیه السلام او مسلمانانو ته ورڅخه زيات تکلیف ورسیده.**

**د منافقت زیانونه او ضررونه:**

**منافقت فرد او ټولنې ته زیات زیانونه او خطرونه پیښوي.نفاق ریښتیا له منځه وړي او درواغ زیاتوي، د منافق شخص ملګري او دوستان نه وي او خلك ورباندې باور نه کوي او په آخرت کې به د منافق انسان لپاره تر ټولو سخت عذاب وي، دنفاق په زیاتوالي سره په ټولنه کې ریښتوني خلك کمیږي. د نفاق په وجه په ټولنه کې غیبت، چغل خوري، دوه مخې ، شك ، بدګماني او نور بد خصلتونه زیاتیږي او د ټولنې څخه رواني امنیت له منځه ځي، د ټولنې څخه فضیلت پورته کیږي او ځای یې رذالت نیسي. د خلکو له منځ څخه اطمنان او راحت لرې کیږي. مسلمانانو ته د نفاق څخه زيات ضررونه رسیږي.**

**السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته**